## د موضوع لنډيز

i. د افغانستان د سياسي حالاتو بدلون چې د بن د موافقه ليک ( ۲۰۰۱ کال) له مخي پلی شو، د ۲۰۰۵ کال په پای کې په برياليتوب سره بشپړ شو. ددې تاريخي پروسې په پايله کې، افغانستان اساسي قانون لاس ته راوړ، په ټول هيواد کې د ولمشرۍ ټاکنې سرته ورسيدې او همدارنګه د پارلمان او ولايتي شورا ګانو ټاکنې هم په دې وروروستيو کې بشپړې شوې. خو د داسې د ستاينې وړ لاس ته راوړنو په سربيره د سياسي کلتور نورمال والي ته اوس هم لا اوږد مزل پاته دی.

ii. په داسې حال کې چې سياسي بهير د بن ګرانې موخې لاس ته راوړې دي، خو د امنيت په چارو کې لا تر اوسه لازم او متوازن پر مختګ ندی شوی. د بې امنۍ لاملونه پيچلي دي او په هغې کې اوسني حکومت ضد ډلي لکه د طالبانو د رژيم پلويان، د القاعدې ډلې، د قوماندانانو د مليشو پاته شونې او جنايتکاره ډلې چې ځيني ئې د مخدره موادو په سوداګرۍ کې هم برخه والي دې، ګډون لري. د دولت د رسمي امنيتي ځواکوو ظرفيت د ښه والي توب په حال کې دی، خو تر اوسه د امنيت د ډاډمن توب لپاره بهرني حمايت ته ډيره اړتيا ليدل کيږي.

iii. که څه هم د ځينو هيواد والو هيلې لا تراوسه ندي پوره شوې، خو د هيواد په ډيرو برخو کې دا ښکاره کيږي چې په ځينو سکټورونو کې د ستاينې وړ پرمختګ شوی دی: د سړکونو د شبکو پرمختيا چې د مسافرت وخت يې را لنډ او کليو ته رسيدنه آسانوي، په ښوونځيو کې د زده کوونکو شميره په تاريخ کې ساری نلري، روغتيايي آسانتياوي د خلکو لپاره د برابريدو په حال کې دي، په زر ګونو کليوالي ټولنې د پرمختګ لپاره چمتو دي، تجارتي بانکونو په کار پيل کړی او د کوچنيو پورونو پروګرامونه پيل شوي او په زرګونو خلکو په ځانګړي توګه ښځو ته يي پورونه برابر کړي دي. داسې وړاند وبينه شوې وه چې د ناخالصه کورنيو توليداتو رښتونې کچه (پرته له نشه يي توکو څخه ) به د ۱۳۸٤ هــ.ل کال په دوران کې د ۱٤ ٪ په اندازه اوچته شي او دا ډير والی د ۲۰۰۲\۲۰۰۳ کال د ۲۹٪ د ۲۰۰۳\۲۰۰٤ کال د ۱٦٪ او د ۲۰۰٤\۲۰۰۵ کال د ۸ ٪ څخه وروسته منځ ته راغلی دی. دا برياوې او همدارنګه نورې هغه لاس ته راوړنې چې لږ محسوس کيږي، خو مهمې دي، لکه: د عامه مالي چارو اداره او د بوديجې ترتيب، په رښتيا سره د ستاينې وړ دي. خو تر اوسه هم د حالت نورمال کيدو ته لا اوږد واټن پاته دی او دا هيواد تر اوسه هم د جګړو له حالت څخه په بشپړه توګه ندی وتلی. د هر برياليتوب سره جوخت ډيرې ستونزې هم شته دي چې له منځه وړل به يې يو څوکلونه ونيسي.

iv. بهرنۍ ټولنه د خپلو جاري او اوږد مهاله رول په اهميت پوه شوی دي او دا مسئله د لندن د کنفرانس په ترڅ کې ( د ۲۰۰٦ کال د جنوري مياشت) تائيد شوه. په دې کنفرانس کې د بن له تړون څخه وروسته د افغانستان لپاره يوه آجنډا جوړه شوه. يوه مهمه برخه يې د افغانستان د موافقه ليک څخه عبارت ده. په نوموړي موافقه ليک کې ليکل شوي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې به ۲۷ معيارونه په عمل کې پلي شي. د موافقه ليک معيارونه د حکومت له مؤقتې ملي پر مختيايي ستراتيژی څخه لاس ته راغلې دي.

v. د افغانستان مؤقته ملي پر مختيايي ستراتيژي د ۲۰۰٦ کال د جنوري په مياشت کې بشپړه شوه او دري رکنونه لري:

أ. امنيت

ب. ادارهٔ، د قانون حاکميت او د بشر حقوق

ج. اقتصادي او ټولنيزه پر مختيا

په دې ستراتيژي کی د خصوصي سکتور وده او د دولت مرسته څرګنده شوې ده چې دولت به بوديجه دپاليسي د ټاکنې د اساسي سند او د مرستو د انسجام لپاره وکاروي. حکومت د افغانستان مؤقته ملي پرمختيايي ستراتيژي په رسمي توګه نړيوال بانک او نړيوال وجهي صندوق ته د فقراو غربت د کمولو د مؤقتې ستراتيژي په توګه وړاندې کړې ده او په پام کې لري تر څو د فقر او غربت د کمولو بشپړه پاليسي د ۲۰۰۷ کال تر نيمايي پورې وړاندې کړي.

vi. نړيوال بانک په افغانستان کې په لمړنيو سترو برياوو باور پيدا کړ او په خپله انتقالي مرستندويه ستراتيژي کې يې د جګړو له بيړني او عاجل حالت څخه يوه نورمال حالت ته بدلون ډير چټک ګڼلی و خو وخت دا ثابته کړه چې که څه هم پر مختګ شوی دی، خو لا اوس هم جګړې څخه د وروسته حالت ځينې عنصرونه پاته دي، يعني کاري ظرفيت انډول نلري او په عمومي توګه کمزوری دی ِ سيستمونه او پروسې د ښه والي، په لمړني ابتدايي حالت کې دي او د هيواد ډيرې برخې د جګړو په واسطه په ژوره توګه ځپل شوي دي. دا مسايل او د امنيت خراب والی او همدارنګه په ټول هيواد کې د دولت د شتون او واکمنې کمزورتيا دا واقعيت ښيي چې سوله لا اوس هم ټينګښت نلري.

vii. نړيوال بانک اوسنې انتقالي حالت ته په پام کولو سره د مؤقتې ستراتيژی دا يادداشت ترتيب کړی دی او داسې په پام کې ده چې د د نړيوال بانک فعاليتونه به د دوه کلنې دورې په موده کې د هغه د لاربښود پر بنسټ سرته ورسيږي. تر هغې وخته پورې حکومت پلان لري چې د فقراو غربت د کمولو بشپړه پاليسي ترتيب کړي او له هيواد سره د مرستې د ستراتيژۍ د ترتيب لپاره به لاره هواره شي. ددې يادداشت له مخې داسې وړاندوېينه کيږي چې د نړيوال بانک مرستې به له مخکينۍ انتقالي مرستندويه ستراتيژي څخه لږ توپير پيدا کړي او په ځانګړي توګه د کليو د اقتصاد پر مختګ ته به ډيره پاملرنه وشي. د نوې ستراتيژي رکنونه په لاندې ډول دي:

- **د دولت د ظرفيت لوړول او خلکو ته د دولت حساب ورکول تر څودا ډاډ تر لاسه شي چې د خدمتونه وړاندي کول د خلکو د توان سره مناسب او سمون لري او دا چې خدمتونه خلکو ته د رسيدنې وړ دي او کيفيت يې مناسب دی.**
- **د کليو د اقتصادي حالت پر مختګ او د کليو د اوسيدونکو د معيشت ښه والی**
- **د رسمي، مډرن او رقابتي خصوصي سکتور** د ودې سره مرسته کول

viii. د نړيوال بانک امتيازي پورونه، چې اوس د وړيا مرستو په بڼه دي، به د هر رکن د چارو د ښه والي لپاره ولګول شي او تحليلي مرستې به د مهمو پاليسيو د جوړلو لپاره پکار شي. مهم راپورونه به د اصلي ستونزو، لکه عامه اداره او اداري فساد په هکله وي. په هغو سکټورونو کې چې نړيوال

بانک لا دمخه ونډه لري، د موجودو پروژو د تطبيق د پرمختګ په اساس به نورې منابع ورکول کيږي. دا پروګرام به د کاري ظرفيت ودې ته پام وکړي، ځکه چې د انکشافي او پرمختيا پروګرام په لاره کې يو لوی خنډ د کاري ظرفيت لږوالي دی.

ix. په افغانستان کې د فعاليت خطرونه هي بايد له پامه ونه غورځول شي. که څه هم د بن د پروسې له لارې ډير پر مختګونه لاس ته راغلي دي، خو ورځنی پيښې دا ښيي چې امنيت لا اوس هم په هيواد کي يوه غټه ستونزه ده او د هغې د ښه والې په هکله څه نښې نشته دي. د نړيوال بانک د افغانستان د دفتر لپاره د فوق العاده حالتونوپلانونه جوړ شوي دي تر څو د امنيت د خرابوالي له ستونزو سره مقابله وشي. نور خطرونه لکه فساد او د امانتداري په برخه انديښنيې به تر يو څه اندازي پورې د طرح شوې پروګرام له لارې لږ شي.